# جنت او هجرت

سعد الله جان برق



داسې به شوک وي چې د جنت او هجرت نومونه ئې نۀ وي اورېدلي او تر څۀ نا څۀ حده پورې ترې خبر نۀ وي. زیات تفصیلات او معلومات خو به عالمانو ته وي خو مونږ عامیانو او امیانو ئې صرف قصې اورېدلې دي نو مونږ سره نۀ ښائي چې د دې دواړو څیزونو په علمي او حقیقي اړخونو څۀ خبره وکړو، دې دپاره صرف هغه سرسري قصو سره به تعلق ساتو چې په حجرو جماتونو او عامو مجلسونو کښې مو اورېدلي دي. د جنت خبره خو دا ده چې زمونږ نیا نیکۀ په جنت کښې اوسېدل او د یو ابلیس نومې شېطان د لاسه ترې نه ووېستلے شو او په لاندې زمکو کښې در په در شول اوس دغې ته شوک هبوط وائي شوک هجرت او شوک نقل مکاني خو د ټولو مطلب یو دے د خپل اصلي ارام ده او ښائسته کور نه وتل جدا کېدل او در په درکېدل.

جنت څۀ ؤ، چرته ؤ، د دې نه خو مونږ نۀ یو خبر خو څنګه ؤ د دې نه لږ ډېر خبر یو چې هلته هر څۀ بیس بسیار وۀ، د هر څۀ، هر شومره خوړلو، اوسېدلو، ګرځېدلو، څملاستلو اجازت وۀ، بې خطره بې تکلیفه او په امن ژوند ؤ. صرف د یو بوټي نه د لرې ګرځېدلو او نۀ ورنزدې کېدلو حکم ؤ.

هر چاته معلومه ده چې ساده بندیان ډېر زر دوکه کېږي او بیا چې دوکه کونکے یو ډېر چالاک او خطرناک مجرم هم وي. چالاک خطرناک او مکار دښمن ورننوتو هغوي ئې دوکه کړل نور تفصیلات به عالمانو ته معلوم وي خو مونږ ته صرف دا پته ده چې غریبانان د خپل ښائسته امن ناک او ډک پک کور نه په وتلو مجبور شول او دې ته مونږ د انساني تاریخ اولنے هجرت وئیلے شو.

د دې نه پس په انساني تاریخ کښې بې شماره لوئے واړۀ هجرتونه شوي دي، کېږي او چې انسان تر کومې ژوندے وي نو کېږي به.

خو یوه عجیبه خبره چې ما په دې خپل کم علم معلومه کړه هغه دا ده چې هجرت ځناور هم کوي او بنیادم هم کوي خو حیرانونکې خبره پکښې دا ده چې ځناورو چرګ هم د نورو ځناورو د لاسه هجرت نهٔ دے کړے، دا خصوصیت صرف د انسان دے چې دے اکثر هم د خپلو انسانانو عزیزانو د لاسه هجرت کوي. ځناور غریبان خو ډېر کم ضرورتونه لري، خېټه د پرېواتهٔ ځائے او د بدن امن نو چې کله د موسمي عواملو یا زمکني او اسماني افتونو دلاسه په لېږدېدو مجبور شي نو د عزیزانو ئې پکښې هېڅ لاس نهٔ وي بلکې ټوله په شریکه نقل مکاني یا هجرت کوي. مطلب دا چې کله په یو ځائے کښې ئې خوراک کم شي، ګرمي یخني یا بل څهٔ قدرتي افت راشي نو روان شي او دا روایت تر اوسه پورې جاري دے، ډېر ځناورمارغان او نور مخلوقات د څهٔ وخت د پاره کډن شي او چې حالات ښهٔ شي نو بیا راشي، په دې قسم هجرت کښې انسان هم ورسره. ملګرے دے ګرمۍ یخنۍ کښې یو خوا بل خوا زمکو ته تلل د خېټې او روزګار دپاره تلل راتلل وغېره.

خو دا خصوصیت د انسان ځان له دے چې د دهٔ اکثر هجرت هم د خپلو عزیزانو انسانانو د لاسه وي



او وجه ئې ضرورت نهٔ بلکې د یوې ډلې د تجاوز حرص او بیا په خاص توګه د برترۍ او بالادستۍ کوشش وي. یوه ډله په بله باندې سورېدل، حاوي



کېدل او حاکمیت قائمول وغواړي په خوراک او دولت کښې د خپلې حصې په ځائے په ډېره باندې خېټه اچول وغواړي. بلکې چې ښهٔ تجزیه ئې وشي نو بنیاد ئې د یوې ډلې هغه ذهنیت وي کوم چې د ابلیس ؤ یعنې زهٔ تا نه برتر یمه، اعلې یمه او طاقتور یمه چې تمام تفصیل ئې په دې دربو ټکو کښې دے چې:

أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ

او چې کله د یوې ډلې په دماغ کښې د برترۍ غرور او نهٔ منلو دا خناس پېدا شي نو هغه د ځناور نه هم ډېر زیات خطرناک ظالم او وحشي شي.

نن سبا مونږ یو ځل بیا دغه حالاتو سره مخامخ یو ځل بیا ابلیس جنت ته ورداخل شوے دے. ادم ئې بیا د "ظلم" هغه شجر ته په ورنزدې کېدو غلط کړے دے، د خپل جنت نه ئې بیا په مخه کړے دے، بلکې د هغه صورت حال څهٔ لږې ډېرې نخښې

نخښانې هم پکښې شته چې کله د مکې کبرا هم د مکې په کمزورو غریبانانو باندې ژوند تنګ کړو، حالانکه هغه غریبانانو خو څۀ غوښتل هم نۀ، صرف د ژوند حق ئې غوښتلو او دا حق د هغوي حق ؤ، ځکه چې هغوي هم د دغه خاورې اوسېدونکي وو خو بالادستو وې چې اوسېږئ خو زمونږ په خوښه به اوسېږئ ګني ځئ به او یا به مرئ او د دې په شا د بالادستو غاورانو هغه تاریخي او ازلي ویره هم وه چې هسې نه دا زبردست غریبانان مفلسان او محکوم خلق بېنا شي او زمونږ هغه غلاګانې ووینې چې مونږ ئې کوو.

خو په داسې حالاتو کښې د الله تعالې یو بل قدرت هم متحرک شي او هغه دا دے چې چرته نه چرته یوه داسې د زمکې ټوټه هم وي چې دغه خلقو له پناه ورکړي، د سر سبورے ورکړي او سینې پورې ئې جخت کړي. داسې خلق هم وي بلکې د ظالمانو نه په ګڼ شمېر کښې وي چې د دغه غمژنو غم شریک شي او اصل انسانان هم دغه وي. د ابلیس ذریت کۀ هر څومره طاقتور وي خو نۀ په شمېر کښې زیات وي او نۀ د زوال نه قطعي محفوظ وي خو هغه انسان چې نورو انسانانو سره مینه کوي ځان ته ئې رانزدې کوي، غم ښادۍ کښې ورسره شریکېږي، په تکلیف کښې راحت ورکول غواړي هغه همېشه ډېر وي او اخر یوه ورځ داسې راشي چې ابلیسي ذریت کمزورے شي، ورک شي، یو بل وخوري او ادم بیا خپل جنت حاصل کړي.



نن هم دغسې حال دے د ادم زامن یو ځل بیا د جنت نه وتلو ته مجبور شوي دي خو کۀ مکې شته نو مدینې هم شته او انصار هم شته، خبره د غم درد او خفګان ضرور ده خو د نا امیده کېدو نۀ ده او نۀ د ادم د زامنو دپاره نوې ده. داسې شوي دي، کېږي او کېږي به ځکه چې د انساني نسل د وړاندې تللو، ارتقاء حاصلولو او لوړ مقام ته د رسېدلو دپاره د منفي او مثبت، ښۀ او بد، رڼا تیارې، ورځې شپې، لوړې ژورې، سختې او نرمې، ښکته او بره، برتر او کمتر، خاکي او ناري، لاندې او باندې، انتشار او ارتکاز، روح او مادې او اور او اوبو، دا کشمکش تصادم او جنګ ضروري دے. نو خبره د خفګان ضرور ده چې یو ځل بیا د ادم زامن د ابلیس د لاسه



در پـه در شـول. خـو د مـايوسـۍ نـا اميـدۍ او همـت بائيلو نۀ ده.

زمـا جنتـه زۀ بـه بيـا درلـه راځـم يـو ځلـې
پـه ژړا ځـم خو پـه خندا بـه دې ګتم يـو ځلـې
ډېر د پـخوا نـه سـتا فـراق سره بلد يمـه زۀ
په ژړا ځم خو خنداګانې به راوړم يو ځلې
دا د څو ورځو جدائي ده اخر تېره بـه شي
سـتا د رخسـار نـه بـه دا اوښـکې وچوم يـو ځلـــــــــــــــــــې